مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب شپږمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲۵مه | ۵۲۰مه ګڼه

# د ټاوټریخوالي موده له بریالي کېدو وروسته؛

## ډونالډ ټرمپ: له طالبانو سره به د سولې تړون په خپله لاسلیک کړم


۳

څېره
۴ مخ

## هاروکي موراکامي



موراکامي د نړۍ مشهور لیکوال دی. هغه په ۲۰۱۸ز کال کې له دوو نورو لیکوالانو سره د نوبل جایزې ته نوماند شو. دا په نړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې ستره جایزه ده چې هر کال لسګونه لیکوالان ورته ځان نوماندوي، خو له دې ډلې یو کس دغه جایزه ګټي.

## رستمي: روان کال د مالدارۍ سکټور بودجې ته ۱۰۰ میلیونه افغانۍ وراضافه شوې



کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکو ویلي، په روان کال کې ۱۰۰ میلیونه افغانۍ د مالدارۍ سکټور بودجې ته وراضافه شوې دي. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي رسنیو ته ویلي چې تېر کال ۱۰۰ میلیونه افغانۍ د حیواني روغتیایي ریاست او مالدارۍ خدماتو لپاره ځانګړې شوې وې، خو سږ کال دې برخې ته ۲۰۰ میلیونه افغانۍ منظور شوې دي.
نوموړي زیاته کړې، دغه بودجه د وړو ژویو، د کبانو د روزنې او د لبنیاتو د پروسس او تولید د طرحو لپاره ځانګړې شوې ده.
د دغه وزارت چارواکو ویلي چې اوسمهال د افغانستان د اړتیا وړ ډېره برخه لبنیات او کبان له بهره راواردېږي، نو ځکه دې برخې ته پاملرنه او پر ځان بسیا کېدل اړین دي.
د یادونې ده چې کرنې وزارت هر کال دغه بودجه د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې په دې برخه کې په پر پرمختیایي برخو لګوي چې زرګونو کسانو ته پکې کاري فرصتونه هم رامنځ ته کېږي.

### د روانې لانجې د حل هڅې او څرنګوالی یې
۲ مخ

### کاسا ۱۰۰۰؛ پر افغانستان او سیمه یې اغېزې
۲ مخ

### د طالبانو او امریکایانو تر منځ تړون ته د ځینو هېوادونو لوړ رتبه استازي بلل کېږي
۳ مخ


## حامد کرزي: امریکا باید د سولې په روانه پروسه کې په رښتیني ډول خپل مسوولیت ادا کړي

پخواني ولسمشر حامد کرزي د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې لاسلیک کېدونکي تړون ته خوشیني ښودلې، خو ویلي یې دي چې له دې پروسې سره باید محتاطانه چلند وشي.
ښاغلي کرزي له ډیلي ټلګراف ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي، طالبان دا ځل د سولې لپاره رښتیني اراده لري، خو په خبره یې، باید ډاډ تر لاسه شي چې امریکا د سولې په نوم د بل څه په لټه کې نه ده.
نوموړي ویلي: «موږ د سولې پروسې ته خوشبین یو، خو باید محتاط و اوسو، څو پوه شو هغه کار چې امریکا یې تر سره کوي، موږ رښتینې سولې ته رسوي، نه دا چې د سولې په نوم پر موږ بل څه تحمیل شي، ځکه موږ په تیرو څو کلونو کې تجربې لرو او همدا زما د احتیاط لامل دی.»
حامد کرزي دغه راز ویلي، د عامو افغانانو تر څنګ طالبان هم له جګړې ستومانه دي او باید هڅه وشي چې د سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت ضایع نه شي.
کرزي زیاته کړې، کلونه وروسته اوس ټول پر دې باور دي چې طالبانو ته د ده له لوري د ورور خطاب ناسم کار نه و، ځکه په خبره یې، هغوی هم د افغانستان برخه دي او د تحمیلي جګړې قرباني دي.
حامد کرزي ویلي، په افغانستان کې د واک د تر لاسه کولو په لټه کې نه دی، بلکې په خبره یې، هیله لري چې د افغان سولې پروسه بریا ته ورسوي.

## افغان چارواکي او سیاسیون دې د ناندریو پر ځای، سولې او ملي یووالي ته لومړیتوب ورکړي


۵ مخ

## کنفرانس اسلامی از کاهش خشونت در افغانستان استقبال و حمایت کرده است



سازمان همکاری های اسلامی (کنفرانس اسلامی) از آغاز کاهش خشونت در افغانستان استقبال کرده است.
در خبرنامه ای که از سوی این کنفرانس در جده منتشر شده، آمده است که آنها از کاهش خشونت به مشوره دولت جمهوری اسلامی افغانستان بین طالبان و امریکا، استقبال می کنند.
منبع افزوده است که با این کار، زمینهٔ صلح دوامدار در افغانستان فراهم میشود.
داکتر یوسف العثیمین سرمنشی کنفرانس اسلامی، هر نوع همکاری در پروسهٔ صلح افغانستان و آغاز مذاکرات بین الافغانی را پیشنهاد کرده است.
منبع افزوده است که سال گذشته، چهاردهمین نشست سران کنفرانس اسلامی در مکه و یک سال پیش از آن، کنفرانس جهانی علمای دین در مکه، از حمایت پروسهٔ صلح افغانستان وعده سپرده بود.
قابل یادآوری است که امروز روز چهارم کاهش خشونت است؛ در روز اول، دوم و سوم این روند، از چند رویداد کوچک امنیتی خبر داده شده؛ اما تلفات زیاد در پی نداشته است.
در عین حال قرار است که بعد از پایان کاهش خشونت توافق نامه صلح میان ایالات متحده امریکا و طالبان امضا میشود که بدین وسیله درِی برای گفتگوهای بین الافغانی باز میشود.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

دریـځ

## د رواني لانجې د حل هڅې او څرنګوالی یې

د محمد اشرف غني د ولسمشرۍ د اعلان پر ضد د ثبات او همپالنې ټیم او نورو مخالفینو فعالیتونه لا هم روان دي، خو ورسره د جوړجاړي هلې ځلې هم پیل شوې دي. پرون پخواني ولسمشر حامد کرزي او جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف له اشرف غني او عبدالله سره کتلي دي. ویل کېږي چې په دې کتنه کې د رواني لانجې پر حل او د سولې پر موضوع بحث او خبرې شوې دي. معلومات ښیي، ډاکټر عبدالله ته ویل شوي چې د والیانو د معرفۍ هڅې ودروي او اشرف غني ته ویل شوي چې د لوړې له مراسمو تېر شي، څو ټول اړخونه په یوه حللاره سره توافق وکړي.

د ټاکنیزو پایلو د اعلان له امله را ولاړه شوې ستونزه په واقعي مانا جدي ده؛ ځکه چې په یوه مهال د دوو حکومتونو د جوړولو هڅې رواني دي. دا یوازې تر خبرو هم محدوده نه ده، بلکې په عملي ډول په څو ولایتونو کې د ثبات او همپالنې ټیم خپل والیان معرفي کړي دي. اشرف غني بیا ځان قانوني ولسمشر ګڼي او د لوړې مراسمو لپاره تیاری نیسي. داسې وېره ده چې که د والیانو معرفي او د هممهاله حکومت جوړولو هڅې همداسې روانې وي، د دواړو اړخونو ترمنځ به ټکر رامنځ ته شي. که خبره تر ټکر پورې ولاړه شي، یا امنیتي ځواکونه وکارول شي او یا هم له نظامي زور څخه کار واخیستل شي، نو دا زخم به بیا ناسور شي او جوړېدل به یې لا ستونزمن شي. له همدې امله وېره ده چې د دغه حالت دوام به ستونزه لا پېچلې کړي. ان له دې لانجو نه یوازې د دوو حکومتونو، بلکې د افغانستان د تجزیې بوی راځي.

اوس چې پخواني ولسمشر او استاد سیاف د جوړجاړي هلې ځلې پیل کړې، پکار ده چې پوره ملاتړ یې وشي. نور سیاستوال او سیاسي ګوندونه هم باید د دغو هلو ځلو ملاتړ وکړي، څو دا هڅې لا زیاتې اغېزناکې شي. محمد اشرف او د هغه ملګرو، دغه راز ډاکټر عبدالله او ملګرو ته یې پکار ده چې خپل دریځونه نرم کړي. دواړه باید هغه هڅې ودروي چې د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته یې پیل کړې دي. د اوس لپاره باید حکومت په هغه بڼه دوام وکړي چې د ټاکنو د پایلو له اعلان څخه مخکې و. موږ د سولې لپاره روان یو، د سولې لپاره اړتیا ده چې یو انتقالي حکومت وي، ځکه چې بې طرفه او انتقالي حکومت کولی شي چې د سولې په برخه کې شوي توافقات عملي کړي. له بله اړخه طالبان هم په هېڅ ډول د ولسمشر غني د واکمنۍ یا پر یوه وخت د دوو حکومتونو منلو ته تیار نه دي. له همدې امله پکار ده چې دا حالت بدل شي. د اوس لپاره همدا غوره نسخه ده چې د ملي یووالي حکومت دوام وکړي. دا حکومت باید له سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره په ګډه د بین الافغاني خبرو لپاره پلاوی وټاکي. د سولې په برخه کې له پرمختګ او هوکړې وروسته باید هغه حکومت رامنځ ته شي چې په بین الافغاني خبرو کې پرې توافق کېږي.

# کاسا ۱۰۰۰؛
## پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز




د کاسا ۱۰۰۰ پروژې طرحه چې د ۲۰۰۵ ز کال په مې میاشت کې د سیمه ییزې همکارۍ یا ریګا کنفرانس کې جوړه شوه او هوکړه یې د قرغزستان، تاجکستان، پاکستان او افغانستان لوړ پوړو مشرانو له خوا لاسلیک شوه. په افغانستان کې یې عملي چارې د روان کال د فبرورۍ میاشتې په ٦مه د افغان ولسمشر محمد اشرف غني له خوا په داسې حال کې چې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله خان او د تاجکستان سفیر شرف الدین امام هم ګډون درلود، رسماً پیل شوې. دا چې دا پروژه څنګه او ولې پیل شوه؟ پر سیمه او په ځانګړې توګه پر افغانستان به یې اغېزې څه وي؟ او د دې پروژې راتلونکی څنګه ارزول کېږي؟ په همدې تحلیل کې مو پرې شننه کړې.

کاسا ۱۰۰۰ پروژه او اړتیا یې

د شوروي اتحاد له وخت څخه چې قرغزستان او تاجکستان چې د (UP Stream) یا پورتنۍ برخې او ترکمنستان، ازبکستان او قزاقستان د (Down Stream) یا لاندینۍ برخې هېوادونو په توګه پېژندل کېدل.

د پورتنیو برخو هېوادونو د اوبو په واسطه او ښکتنیو هېوادونو له ګازو او تیلو څخه چې پراخه زېرمې یې لري، برېښنا تولیدوله. پورتني اړخ به ښکتني اړخ ته په دوبي کې او ښکتني اړخ به پورتني هغه ته په ژمي کې شاوخوا ۲۵۴۱۳ ګیګا واټه برېښنا د (CAPS) یا (Central Asia Power System) له مخې چې پورتني پنځه هېوادونه پکې راتلل، یو بل ته لېږدوله. خو کله چې شوروي اتحاد له منځه ولاړ، یادې مرستې هم د پای مونډلو ګامونه پیل کړل. په ۲۰۰۳ ز کال کې ترکمنستان په یاده برخه کې له مرستې لاس واخیست. په یاده برخه کې د برېښنا لېږد کچه له ۲۵ زره څخه په ۲۰۰۰، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ ز کلونو کې په ترتیب سره ۸۷۰۳، ۶۳۱۹ او ۳۷۱۲ ګیګا واټ ته راښکته شوه.

لکه څنګه چې معلومه ده، د نړۍ په سطحه ټول هېوادونه برېښنا ته ځکه ډېره اړتیا لري چې برېښنا په اقتصادي، ټولنیزو او نورو برخو کې د پرمختیایي کارونو تر سره کېدو لپاره وکاروي.

بلخوا په اوس وخت کې د نړۍ په سطحه د هوا ککړتیا یوه ستره ننګونه ګڼل کېږي. د نړۍ مشران ټینګار کوي چې ټول هېوادونه د پرمختیایي کارونو تر سره کولو لپاره د هغو موادو استعمال بند او یا کم کړي کوم چې د هوا ککړتیا کې ونډه لري.

پر همدې بنسټونو ډېری هېوادونه چې د اوبو پراخه سرچینې لري، هڅه کوي چې له خپلو اوبو څخه په ګټې اخیستنې سره برېښنا تولید کړي. له اوبو څخه تولید شوې برېښنا که له یوې خوا د هغو موادو د استعمال مخه نیسي او کموي یې کوم چې د پرمختیایي کارونو تر سره کېدو لپاره استعمالیږي او هوا ککړوي، له بلې خوا اوس د ډېرو هېوادونو د اقتصادي پرمختګ او عوایدو راغونډولو لویه سرچینه هم ګڼل کېږي.

قرغزستان او تاجکستان په منځنۍ آسیا کې هغه هېوادونه دي چې د اوبو پراخې زېرمې لري او برېښنا په تولید کې ورځخه ګټه پورته کوي. یاد هېوادونه د دوبي په موسم کې له خپلې اړتیا څخه ډېره برېښنا لري. بلخوا په سویلي آسیا کې پاکستان هغه هېواد دی چې د دوبي په موسم کې شاوخوا ۵۰۰۰ میګا واټه برېښنا ته اړینه اړتیا لري او په یاد موسم کې له ستر او ننګوونکي کمښت سره مخ وي. او په ورځنۍ کچه د یاد هېواد وګړي له ۱۰ تر ۲۰ ساعتونو پورې د برېښنا بندېدو ستونزې سره مخ وي. نو ځکه پاکستان غواړي چې د خپلې دې اړتیا د پوره کولو لپاره له قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې خپل هېواد ته د دوبي په موسم کې برېښنا وارده کړي.

پر افغانستان او سیمه یې اغېزې

د دغې پروژې برېښنا مزی د ۵۰۰ کیلو واټه برېښنا لېږد ظرفیت لري. له قرغزستان او تاجکستان څخه د ۴۷۷ کیلومتره په اندازه به د افغانستان شیرخان بندر له لارې د اوو ولایتونو (کندوز، بغلان، پنجشیر، کاپیسا، کابل، لغمان او ننګرهار) څخه په افغانستان کې د ۵۷۰ کیلومتره په اندازې تېرېږي او د تورخم له لارې به د پاکستان نوښار سیمې ته رسول کېږي.

پر دې پروژه د ۱.۲ میلیارد ډالرو لګولو اټکل شوی. په افغانستان کې یې د لګښت کچه ۴۰۴ میلیون ډالره اټکل شوې چې ۸۰ سلنه به یې نړیوال بانک او پاتې ۲۰ سلنه به یې افغان حکومت پر غاړه اخلي. له پلخمري کابل ته د مزي غځولو لګښت د آسیا پرمختیایي بانک له خوا تمویلیږي او اټکل کېږي چې افغانستان به د دې مزي له ټرانزیټ څخه ۱.۲۵ سینټ د یو کیلو واټ ساعت پر بنسټ چې شاوخوا ۴۵ میلیون ډالره کلنۍ عاید کېږي، تر لاسه کوي.

په افغانستان کې به د کاسا ۱۰۰۰ برېښنا لاټونه یا مرکزونه چې په ٦٨ سلنه حکومتي ځمکو کې به جوړېږي، د جوړولو لپاره به درې کمپونه په کندوز، پنجشیر او جلال آباد کې جوړېږي. په هر کمپ کې به ۷۰ کار کوونکي پر دندو وګومارل شي. له هغې ډلې به ۱۰ بهرنیان، ۵۰ ځایي کار کوونکي او ۱۰ امنیتي مسوولین وي. او په هره برخه کې به د اټکل شوې شمېرې له مخې، ۱۲۵ کسان پر کار بوخت وي، چې په هغه کې به له ۲۰ څخه تر ۳۰ سلنې مسلکي کسان او نور به له ځایي خلکو څخه عام کار کوونکي وي.

د لومړنۍ مطالعې په وخت کې لومړی د بدخشان او واخان له لارې پاکستان ته د مزي غځولو طرحې باندې کار کېده، ځکه ستره ګټه یې د لارې کموالی و. مګر له کندوز څخه تر ننګرهار ولایت پورې دویمه لار چې اوږدوالی یې هم ډېر و، ځکه غوره شوه چې په دغې لارې پاخه سړکونه او لارې شته او د مزي غځولو او بیارغونې کارونه پکې په آسانه توګه تر سره کېدلی شي او محیطي او ټولنیزې اغېزې یې هم کمې دي. دغه پروژه د تاجک، ازبک، هزاره او پښتنو توکمو له سیمو څخه تېرېږي او ګټه یې ټولو ته رسېږي.

د افغانستان برخې کارونو تر سره کېدو تړون یې، افغان لوري د دوه هندي کمپنیو (Kalpataru Power Transmission Limited (KPTL)) او M/s KEC international Limited,) India) سره لاسلیک کړی دی.

کاسا ۱۰۰۰ پروژه د منځنۍ او سویلي آسیا تر منځ د اقتصادي او هر اړخیزو مرستو او سیمه ییز نښلون کې مرستندویه واقع کېدلی شي. تاجکستان او قرغزستان چې نسبتاً بې وزله هېوادونه دي، د هغوی د عوایدو لوړوالي کې هم مرسته کولی شي. افغانستان به په عملي توګه د منځنۍ او سویلي آسیا تر منځ د یو پل لوبولو حیثیت څرګند کړي او په راتلونکي کې به د سیمې هېوادونه نورو اقتصادي مرستو شریکولو ته هم د افغانستان له لارې لیواله کړي.

کاسا ۱۰۰۰ پروژې د امنیت لپاره لس میلیون ډالر ځانګړې شوي دي چې له یوې خوا د دې پروژې امنیت غښتلی کولی شي او له بلې خوا د افغانستان په امنیت ښه کولو کې هم تر یوې کچې رغنده ونډه لوبولی شي.

د کاسا ۱۰۰۰ پروژې راتلونکی

په داسې حال کې چې د دې پروژې پر وړاندې ځینې خنډونه هم شته، په اوس وخت کې د کاسا ۱۰۰۰ پروژه د سیمې هېوادونو په اقتصادي پرمختګ، تقاضا او اړتیا، سیمه ییز نښلون او امنیت برخو کې مرسته کولی شي. د دې پروژې پر وړاندې ستر خنډ امنیت ګڼل کېږي، بل خنډ چې کولی شي د دې اقتصادي پروژې مخه په راتلونکي کې ډب کړي هغه جیو پولیټیکل ستونزه ده.

ځکه که په راتلونکي کې په منځنۍ آسیا کې د برېښنا بل پلان په نظر کې نیول کېږي، نو دا پروژه به له خنډ سره مخ کوي. د بېلګې په توګه، د تاجکستان هېواد چې د راغون برېښنا بند جوړولو په سر د ازبکستان هېواد سره په سیاسي کړکیچ کې واوښت او شاوخوا ۱۸ کاله ازبکستان او تاجکستان هېوادونو تر منځ اړیکې یې ترینګلې کړې وې.

پاکستان هڅه کوي چې روسیه هم کاسا ۱۰۰۰ پروژې ته راوبولي، که څه هم روسیې له افغان لوري سره په کاسا ۱۰۰۰ پروژې خبرې کړې او غواړي په یاده پروژه کې د ۵۰۰ میلیونو ډالرو پورې پانګونه وکړي او پاکستان او افغانستان ته برېښنا صادره کړي. مګر تاجکستان بیا نه غواړي چې روسیه په دې پروژه کې ور ګډه شي او د روسیې وړاندیز بې ځایه ګڼلی دی.

بل خطر چې په راتلونکي کې کاسا ۱۰۰۰ له خنډ سره مخ کولی شي، هغه د چین هېواد له لوري پاکستان ته د ۳.۲ ګیګا واټه برېښنا ورکړې ژمنه ده او کولی شي د یاد هېواد برېښنا تقاضا را ښکته کړي او پر کاسا ۱۰۰۰ حتماً سترې اغېزې لرلی شي.

ویل کېدل چې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې له لارې به ۱۳۰۰ میګا واټه برېښنا لېږدول کېږي چې زر هغه به یې پاکستان او پاتې نوره به یې افغانستان ته ورکول کېږي. مګر په وروستیو کې افغان دولت پرېکړه کړې چې له کاسا ۱۰۰۰ پروژې څخه به ۳۰۰ میګا واټه برېښنا ځکه نه اخلي، چې د سیمې نورو هېوادونو په پرتله یې بیه لوړه ده. نو که چېرته پاکستان ته هم په راتلونکي کې د ارزانه برېښنا امکانات برابرېږي، نو حتمي ده چې د کاسا ۱۰۰۰ پروژه به له زیان سره مخ کېږي.

د ۲۰۱٦ ز کال په مې میاشت کې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې عملي کارونه په تاجکستان هېواد کې پیل شول او ښایي تر ۲۰۲۲ ز کال پورې د دغې پروژې ټول کارونه پای ته ورسېږي.

خو هغه څه چې په اوس کې یې له کاسا ۱۰۰۰ پروژې سره مرسته کړې، هغه نړیواله اجماع او مرسته ده چې د نړیوال بانک، آسیا پرمختیایي بانک او USAID له خوا په مالي برخه کې تر سره کېږي. مګر که نړیوال رښتیا غواړي چې افغانستان خپل پرمختګ لور ته عملي ګامونه پیل کړي، اړینه ده چې له افغانستان سره د اوبو بندونو جوړولو په برخه کې نه یوازې مالي او تخنیکي مرستې تر سره کړي؛ بلکې د سیمې په سطحه هغه هېوادونه چې افغانستان دې کار پیلولو ته نه پرېږدي او پر وړاندې یې خنډونه جوړوي، مخې ډب کولو او د هغوی راګرځولو کې له افغانستان سره روا او قانوني مرستې تر سره کړي.

څو افغانستان یوازې د یو پل په حیث نه؛ بلکې د نورو اقتصادي پرمختګونو لاره او څښتن شي. پاکستان چې ۵۰۰۰ زره میګا واټه برېښنا له ستر او اړین کمښت سره مخ دی، که چېرته افغان دولت د اوبو بندونو جوړولو کارونه د نړیوالو په مرسته چې څومره زر کېدلی شي تر سره کړي، نو کولی شي پر یاد هېواد (پاکستان) خپله برېښنا وپلوري. او دا کار کولی شي د سیمې په سطحه امنیت راوستلو، اقتصادي پرمختګونو او په ځانګړې توګه تر دواړو ګاونډیو هېوادونو وروسته پاتې ولسونو په اقتصادي ځواک پیاوړي کولو او اړیکو ټینګولو کې لا ډېره مرسته وکړي. بلخوا پاکستان کولی شي له افغانستان څخه ارزانه او د لږ واټن په حساب برېښنا خپل هېواد ته وارده کړي.

# د طالبانو او امریکایانو تر منځ تړون ته د ځینو هېوادونو لوړ رتبه استازي بلل کېږي

بي بي سي پښتو





امریکا او طالبان وایي، په خپل منځ کې به بله شنبه (د کب په لسمه یا د فبروري په ۲۹مه) د سولې تړون لاسلیک کړي.

د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په یوه اعلامیه کې ویلي، د دغه تړون له لاسلیک وروسته به ژر د افغانانو خپلمنځي خبرې هم پیل شي.

طالبانو هم په یوه جلا اعلامیه کې ویلي چې د تړون د لاسلیک تر نېټې به دواړه لوري مناسبه فضا برابروي، د بندیانو د خلاصون لپاره به ترتیبات نیسي او د افغانانو خپلمنځي خبرو ته به لاره جوړوي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې له افغان حکومت سره په مشوره کې یې مرکچیان په دوحه کې له طالبانو سره په ټول افغانستان کې د تاوتریخوالي پر پام وړ کمولو سلا شوي دي.

هغه ویلي چې د دغې هوکړې له بریالي پلي کېدو وروسته به د امریکا او طالبانو تر منځ په تړون کې پرمختګ وشي او تمه لري چې پر بله شنبه یا د فبروري په ۲۹مه به دا تړون لاسلیک شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د اعلامیې له مخې، د امریکا او طالبانو تر منځ د تړون تر لاسلیک کېدو وروسته به ژر د افغانانو خپلمنځي خبرې هم پیل شي.

په اعلامیه کې د بهرنیو چارو وزیر له قوله ویل شوي چې په افغانستان کې د پایېدونکې سولې یوازینۍ لار دا ده چې افغانان په ګډه د خپل هېواد پر راتلونکي سلا شي.

د هغه په خبره: «که څه هم ننګوني شته، خو په دوحه کې شوي پرمختګونه ښه فرصت دی،» او له افغانانو یې غوښتي چې له دې موکې ګټه واخلي.

بلخوا طالبانو په یوه اعلامیه کې ویلي چې د توافقنامې د لاسلیک لپاره تر یادې نېټې وړاندې به دواړه لوري مناسبه فضا برابروي، د لاسلیک مراسمو ته د ځینو هیوادونو او سازمانونو لوړ رتبه استازي بلل کیږي او د بندیانو د خلاصون لپاره لازم ترتیبات نیول کیږي.

په اعلامیه کې ویل شوي چې دواړه لوري به «د هیواد له بېلابېلو جهتونو سره د بین الافغاني مذاکراتو زمینه مساعدوي او بالاخره به د ټولو بهرنیو ځواکونو په وتلو او د افغانستان خاوره د چا د امنیت په خلاف نه کارولو سره به په ټول هیواد کې د سرتاسري سولې لپاره لار هواروي.»

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ هم په یوه اعلامیه کې په تاوتریخوالي کې د پام وړ کموالي هرکلی کړی. د ښاغلي سټولټنبرګ له خوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې دا «د تاوتریخوالي په کمولو کې د طالبانو د چمتووالي او توان ارزونه ده او دا چې طالبان څومره په سوله او د ښه نیت په ښودلو کې برخه اخلي.»

د ناټو عمومي منشي ویلي، دا پړاو به د افغانانو تر منځ خبرو، تلپاتې سولې او دا چې افغان خاوره به نور هېڅکله د ترهګرو ځاله نه وي، لاره هواره کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په یوه اعلامیه کې ویلي چې د دغه تړون له لاسلیک وروسته به ژر د افغانانانو خپلمنځي خبرې هم پیل شي.

د شنبې په ورځ د افغانستان د امنیت شورا هم وویل چې د فبروري له ۲۲مې (شنبه، د کب په ۳) به په ټول افغانستان کې د تاوتریخوالي کمېدل پلي شي.

د امنیت شورا ویاند جاوید فیصل بي بي سي ته وویل، چې افغان حکومت د دې پلان د عملي کولو لپاره «پوره چمتووالی» لري.

نوموړی وایي: «تمرکز پر دې ور ټول دی چې له دغې یوې اونۍ موکې څخه پوره ګټه واخیستل شي او موږ سولې ته ورسوي. تردې وړاندې اوربند وشي او د سولې بین الافغاني مذاکرات پیل شي.»

ښاغلی فیصل زیاتوي چې د تاوتریخوالي کمولو د هوکړې عملي کېدل به په ټول افغانستان کې د فبروري له ۲۲مې پیل شي.

د طالبانو یوې سرچینې بي بي سي ته منلې چې د تاوتریخوالي کمېدل به سر له شنبې پیلېږي.

د امنیت شورا ویاند وایي، افغان امنیتي ځواکونو ته امر شوی چې «تیار سئ» حالت کې واوسي او په وینا یې له خپلو خلکو، لویو لارو او تاسیساتو څخه دفاع ته چمتو وي.

جاوید فیصل زیاتوي چې د داعش او «نورو ترهګرو ډلو» خلاف عملیاتو او نورو فعالیتونو کې بدلون نه راځي.

# د تاوتریخوالي مودې له بریالي کېدو وروسته؛

## ډونالډ ټرمپ: له طالبانو سره به د سولې تړون په خپله لاسلیک کړم



د تاوتریخوالي د کموالي مودې په لړ کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره د سولې هوکړې لاسلیک ته خوشبیني ښودلې ده.

ټرمپ چې هند ته تر روانېدو مخکې یې په سپینه ماڼۍ کې خبریالانو ته وینا کوله، د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي چې له طالبانو سره تړون د تاوتریخوالي د کمښت په اغېزمنتیا پورې تړاو لري او که دغه پروسه په ښه ډول پر مخ ولاړه شي او د سولې تړون نهایي شي، په خپله به یې لاسلیک کړي.

ولسمشر ټرمپ که څه هم د دغه تړون د لاسلیک ځای نه دی په ډاګه کړی، خو زیاته کړې یې ده چې دغه تړون د تاوتریخوالي مودې پر بریالیتوب پورې تړلی دی.

ټرمپ ویلي: «زه ګورم چې دا یوه اونۍ وخت څنګه تېرېږي. موږ یې ژر تر سره کولای شو. فرضاً که په دې څه کم یوه اونۍ کې یې (د تاوتریخوالي کمښت) کار ورکړ، زه به خپل نوم پرې ولیکم. وخت یې دی چې کور ته راشو. هغوی (طالبان) هم غواړي چې (جګړه) بنده کړي. هغوی سرسخت خلک دي، موږ هم سرسخت خلک یو، خو ۱۹ کاله جګړه ډېر وخت دی، اوس یې وخت دی چې دغه جګړه پای ته ورسول شي.»

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ چې بیا بیا یې په افغانستان کې د جګړې پر پای ته رسېدو ټینګار کړی، ویلي چې هڅه کوي د سولې پروسې تر بریالي کېدو وروسته، خپل ځواکونه له دغه هېواده کور ته راستانه کړي.

نوموړي ویلي چې په افغانستان کې له نولس کلنې جګړې وروسته، ټول اړخونه ستړي شوي او د دې فرصت رامنځ ته شوی چې په دغه هېواد کې روان کړکېچ له سیاسي لارو حل شي.

ټرمپ ویلي: «هلته (په افغانستان کې) تاوتریخوالی کم شوی، وبه ګورو چې څه کېږي، خو خلک غواړي چې یوه معامله جوړه شي او زه فکر کوم طالبان هم غواړي یو تړون وکړي.»

په کور د ننه سیاسیون او پخواني طالب چارواکي د تاوتریخوالي د کموالي مودې ته خوشبین دي او وایي چې د دواړو لورو تر منځ د هوکړې پر اساس، ټاکل شوې چې د راتلونکې شنبې په ورځ د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي. ویل کېږي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د تړون د لاسلیک مراسمو ته هم تابیاوې روانې دي او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو، ملګرو ملتونو او نږدې ۳۰ هېوادونو لوړپوړي چارواکي به هم په دې مراسمو کې ګډون کوي.

له طالبانو سره د سولې هوکړې لاسلیک ته د ټرمپ خوشبیني داسې مهال ده، چې د طالبانو او امریکا تر منځ د هوکړې پر اساس، د تاوتریخوالي د کموالي بهیر روان دی او تر اوسه په ټول افغانستان کې کومه جدي امنیتي پېښه نه ده رامنځ ته شوې.

# پامپیو: امریکا هڅه کوي چې له ایرانه لرې شوي نړیوال بندیزونه بیا ولګول شي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، هېواد یې هڅه کوي چې د ۲۰۱۵ ز کال د تړون له کبله له ایرانه لرې شوي نړیوال بندیزونه بیا ولګول شي.

پامپیو ویلي چې متحده ایالتونه د دغه کار لپاره هڅه کوي چې دغه طرحه د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړي.

نوموړي له امریکایي رسنیو سره په خبرو کې ویلي: «متحده ایالتونه هڅه کوي چې پر ایران د نړیوالو بندیزونو د بیا لګولو لپاره خپله طرحه امنیت شورا ته وړاندې کړي، ایران په دې برخه کې په خپلو ژمنو کې پاتې راغلی او اوس د دې وخت رارسېدلی چې لرې شوي بندیزونه له سره ولګول شي.»

پامپیو ویلي چې ولسمشر ټرمپ په دې اړه مشورې پیل کړې او راتلونکې میاشت به دغه طرحه نهایي او امنیت شورا ته د بحث لپاره وړاندې شي.

هغه زیاته کړې چې په نویو بندیزونو کې به د ایران د بالیستیک توغندیو د پراختیا برخې هم شاملې وي چې تر دې وړاندې یې یاد هېواد ته په اړه بیا بیا خبرداری ورکړل شوی دی.

پامپیو ویلي: «په دې اړه مو له خپلو متحدینو، برېټانیا، جرمني او فرانسې سره خبرې کړې او دوی هم له دې ګواښونو خبر دي.»

هغه پر اروپایي ټولنې هم نیوکې کړې چې د خپلو ګټو په خاطر له ایران سره له شوي تړون څخه لاهم ملاتړ کوي.

پامپیو پر روسیې او چین هم غږ کړی چې د ایران له خوا متوجه ګواښ جدي ونیسي او په دې اړه له امریکا سره په ګډه کار وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې له ایران سره د نړۍ د پیاوړو هېوادونو، اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونو د ۲۰۱۵ ز کال تر تړون وروسته، له هغو ننګونو سره مخ شو، کله چې ولسمشر ټرمپ په یوه اړخیره توګه په ۲۰۱۸ ز کال کې امریکا له دغه تړونه و ایسته او پر ایران یې بېرته بندیزونه ولګول.

له هغې وروسته د دغه تړون په اړه نړیوال بېلابېل نظرونه لري، د روسیې، چین او اروپایي ټولنې په ګډون ځینې هېوادونه د دغه تړون د پاتې کېدو غوښتنه کوي، خو امریکا بیا وایي چې یاد تړون ایران له اټومي وسلو نه شي راګرځولی.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### له زرین فرصته ګټه اخیستل




**٤. لومړیتوبونه له ارزښتونو سره عیار کړئ!**

رښتینولي دا ده چې د انسان خبرې او عمل سره یو ډول وي. که څوک په خوله یوه خبره کوي او عملا بل ډول لګیا وي، نو په داسې خلکو کې د رښتینولۍ کمی دی. خو که څوک پر دې پوه نه شي چې چارې یې له خبرو سره یو ډول دي که نه، نو بیا؟ سره له دې چې دا کار به قصدي نه کوي؛ خو رښتینولي یې بیا هم په شک کې ده.

رښتینولي دا هم ده چې خبره او عمل دې یو ډول وي.

د رښتینولۍ په اساسي تعریف کې دا خبره هم راځي چې یو شی یا یو څوک دې یو او بشپړ (ثابت) وي. که په خوله یوه خبره کوئ او کار بل ډول کوئ، نو تاسو وېشل شوي یئ. او ابراهم لنکن ویلي:((کوم کور چې د خپل ځان پر وړاندې وېشل شوی وي، دوام نه شي کولای. خبره ساده ده، لومړی خپل ارزښتونه تعریف کړئ او بیا لومړیتوبونه وټاکئ.))

**٥. تېروتنه ومنئ او سمدستي ښښنه غواړئ!**

د لویو شرکتونو د ماتېدو په اړه یوه لویه نیوکه دا کېږي چې دوی موضوعات پټول. د اینرون، ټایکو او ورلډ کام شرکتونو مشرانو هڅه کوله چې خپلې تېروتنې پټې کړي. هو! دا چلن یوازې په کاروبار کې نه و. په هره برخه کې د کمزوري کرکټر خاوندان خپلې تېروتنې ډېرې نه مني او پردې پرې اچوي.

تاسو د نیوجرسي د پخواني سناتور رابرت توریشیلي قضیه وګورئ: ده د کمپاین پر وخت ډېرې زیاتې ډالۍ اخیستې وې او نږدې( ۵۳۰۰۰ )ډالره غیرقانوني پیسې هم خلکو ورکړې وې؛ خو ده ویل چې هېڅ غلطي یې نه ده کړې، سره له دې چې د سنا مجلس د اخلاقو کمېټې څو څو ځله سپارښتنې هم ورته وکړې. ۴ بیا یې چې په سنا مجلس کې خپله څوکۍ هم ونه ګټله، نو وروستۍ وینا یې هم د خپلې رښتینولۍ او سمون په اړه وه. په یو ځای کې یې د خپل کرکټر دفاع په دې ټکو وکړه:((دا زما ژوند دی. زه یې په هره ورځ وياړم او لږ به هم بدل نه شم.)) خو وروسته یې بیا وویل:((موږ له کومه وخته داسې سخت خلک شوو چې څوک نه بښو؟ موږ له کومه وخته پر یو بل باور کول پرېښي دي؟)) ۵ خلک ښښنه هم کوي او باور هم؛ خو که یو څوک تېروتنه وکړي، په رښتیا یې ومني او ښښنه ترې وغواړي.

تاسو اوس د دې سناتور چارې د بکسټر انټرنشنل درملو شرکت له اجراییوي رییس «هېري کرایمر» سره پرتله کړئ چې په( ۲۰۰۱ز) کې د پښتورګو (دیالیزیز) ناروغانو د دوی د شرکت فلترونه کارول او مړینه یې پیل شوه. ده بېرته خبرداری خپور کړ. خپل تولیدات یې راټول کړل او یوه کورنۍ څېړنه یې پیل کړه. بیا یې ځینې متخصصان وګومارل چې ممکنه ستونزې او تېروتنې په ګوته کړي. تر څنګ یې له زیانمنو شوو کورنیو سره خپلې خواخوږۍ ته هم دوام ورکړ. د داسې هم کولای شول چې زیان کنټرول کړي یا چېرته بل څوک ملامت کړي؛ خو داسې یې ونه کړل. خپل تولیدات یې بېرته له بازاره راټول کړل او د شرکت دا څانګه یې وتړله. دې کار نږدې (۱۸۹)میلیونه ډالر زیان ور ورساوه. تر څنګ یې ستونزه د دې توکو له یوه بل شرکت سره هم شریکه کړه چې هغوی هم ښایي له همدې ستونزې سره مخ شوي وی. هغه دا کار په دې خاطر وکړ چې سم و. ورپسې یې د امتیازاتو کمېټې ته دا هم وویل چې د( ۲۰۰۱ز) لپاره باید د ده د اجراااتو امتیاز هم تر ځلوېښت سلنه ټیټ شي. د کریمر په اړه بیا خلکو ښې خبرې وکړې. د کیلووګ ښوونځي مدیر ډونالډ پي جاکوبس یې په اړه وویل:((هېري په داسې طریقه ژوند کوي چې موږ زیاتره په هغه طریقه ژوند غواړو. هېري چې څه وایي پر تاسو باور کوي او تاسو باور پرې کولای شئ. له خپلو کارکوونکو سره هغه چلن کوي، چې له نورو یې تمه لري.)) ٦ کریمر تر ټولو بد حالات تر ټولو ښه حالت کړل. دا کار یې په رښتینولۍ وکړ او چارې یې له زرین قانون سره سمې وکړې، نوره څه تمه ترې کېدای شوه؟

**٦. له پیسو سره ډېر پام کوئ!**

که د چا په کرکټر پوهېدل غواړئ، نو وګورئ چې له پیسو سره یې چلن څنګه دی. هنري فورډ ویلي:((پیسې انسان نه بدلوي، له مخه یې نقاب لرې کوي. که انسان پخپله ځانغواړی او حریص وي، نو پیسې یې همدا را ښکاره کوي.))

پیسې انسان نه بدلوي، له مخه یې نقاب لرې کوي. که انسان پخپله ځانغواړی او حریص وي، نو پیسې یې همدا را ښکاره کوي.

**هنري فورډ**

خلک د نورو پیسو ته سخي او خپلو ته بخیل دي؟ دوی ټینګار کوي چې د پیسو هره معامله دې د دوی په ګټه وي؟ د ډېرو پیسو پیدا کولو لپاره ټګي برګي کوي؟ د دوی په ژوند کې پیسه څه مقام لري؟


خلک چې پیسو ګټلو ته تر مناسب حالت لوړ ارزښت او لومړیتوب ورکړي، نو په دام کې نښلي. دا د اسطوره یي پاچا «میداس» ستونزه هم وه. د هغه په ژوند کې پیسو لومړی مقام درلود او هر څه یې د همدې له مخې اندازه کول. رواقي فیلسوف زینوس ویلي:((حریص انسان داسې وي لکه وچه دښته، چې د باران ټول څاڅکي او پرخه په حرص څښي؛ خو نه پکې مېوه داري ونې کېږي او نه بوټي چې نور خلک ګټه ترې واخلي.))

ما په پنځم څپرکي کې وویل چې پیسې وسیله ده؛ خو تېره وسیله ده. که څوک کمزوری چلن وکړي، نو ځان پرې ټپي کولای شي. په دې خاطر باید له پیسو سره ډېر زیات پام وشي. که موږ له پیسو سره سم چلن وکړو، نو دا به خطرناکه نه، بلکې مثبته، ګټوره او مرستندویه وسیله وي. پي ټي برنوم ویلي:((پیسې خطرناک بادار، خو ښه خدمتګار دی.)) که پیسې خپل بادار کوئ، نو لاندې کارونه وکړئ:

**دوام لري...**

# هاروکي موراکامي

شفیق امیرزی



هاروکي موراکامي جاپانی لیکوال دی. هغه د ۱۹۴۹ز کال د جنورۍ په ۱۲مه په جاپان کې زیږېدلی دی. د هغه کتابونه په جاپان او ټوله نړۍ کې خپل مینه وال لري. دی تر ډېره کیسې او ناولونه لیکي، خو ځانګړی سبک لري چې همدې سبک دی په نړیواله کچه مشهور کړی دی. دی د نړۍ د هغو لیکوالانو په کتار کې دی چې کتابونه او ناولونه یې ډېر مینه وال او لوستونکي لري. د معلوماتو له مخې، اثار یې د نړۍ په پنځوسو ژبو ترجمه شوي دي. له جاپان بهر او په جاپان کې یې د کتابونو میلیونونه نسخې پلورل شوې دي.

د ده اثار تر ډېره د ژورو خیالونو ټولګه ده او د فانتیزي سبک مخکښ لیکوال دی. فانتیزي سبک په دې مانا چې له واقعي ژوند ور هاخوا تر ډېره خیالي او ماورایي ژوند پکې انځور شوی وي. له همدې امله یې د نړیوالو ادبیاتو د فانتیزي سبک جایزه هم ګټلې ده. موږ مخکې هم وویل چې موراکامي جاپانی لیکوال دی، خو همدا چې مشهوره کېږي، نو جاپان د هغه اثار د غیر جاپاني د خپرولو په تور ځپي او نیوکه ورباندې کوي. دوی باوري دي چې د موراکامي پر اثارو د ریموند چندلر، کرت وونه ګات او ریچارد براتیګان اغېز لیدل کېږي. د ده داستانونه تر ډېره د باور برخلیک، سور ریالیستي باورونه او د یوازیتوب او بیګانګۍ رنګ لري. استیون پول له ګارډین ورځپاڼې سره په خبرو کې وایي چې موراکامي د خپلو اثارو له امله د نړۍ په لویو او سترو لیکوالانو کې دربېږي.

موراکامي د ۱۹۴۹ز کال د جنورۍ په ۱۲مه د جاپان په توکیو ښار کې زیږېدلی دی. دی د شلمې پېړۍ په منځ کې داسې مهال زیږېدلی چې نړۍ له جګړو راوتلې وه او د ودې لور ته روانه وه. د نړۍ ډېری هېوادونه او په تېره بیا غربي هېوادونه د ودې په حال کې وو. دی د خپلې کورنۍ یوازینی اولاد دی. پلار یې د بودایي کشیش زوی و او مور یې هم د یوه سوداګر لور وه. مور یې د اوزاکا اوسېدونکې وه، مور او پلار دواړو یې د جاپاني ادبیاتو تدریس کاوه.

سږ کال، تېر کال یا راتلونکی کال فرق نه کوي، خو هر کال د امریکا او برېټانیا د ډېرو پلورل شوو کتابونو لېست تغیر کوي. په دې کتار کې تل څو د مینې او انساني ژوند داستانونه په لومړي سر کې وي. په دې منځ کې څو نفره لا هم شته چې د دغو کتابونو جدول بدلوي. یو پکې موراکامي دی. هر دوه یا درې کاله وروسته راپیدا شي او د امریکا او برېټانیا د ډېرو پلورل شوو کتابونو کتارونه بدل کړي. داسې یو کس دی چې تر دېرش کلنۍ پورې یې یوه کرښه هم نه وه کښلې. داسې یو کس چې کتابونه یې له یوازیتوب، وسوسو او ځان وژنې ډک دي.

موراکامي تر دېرش کلنۍ پورې یوه کرښه هم نه وه کښلې. د توکیو په کوکونبونجي کې یې له خپلې مېرمنې سره ژوند کاوه. خو ژوند یې هله په بل مخ واوښت چې په دېرش کلنۍ کې جینګو سټېډیوم ته د جینګو لوبې د کتلو لپاره لاړ. دی وایي، د ۱۹۷۸ز کال د اپرېل لومړۍ نېټه د غرمې یوه نیمه بجه وه. په جینګو سټېډیوم کې وم. هلته څوکۍ نه وې، یوازې شین اسمان و او پر شنه چمن لوبه روانه وه. ما لوبې ته کتل او ځینې صحنې مې په ذهن کې خورا ښکلې جوړولې. په همدې سره پوه شوم چې کولی شم ښه کیسه لیکوال شم. زما اوس هم هغه پراخ او ښکلی اسمان په یاد دی.

موراکامي په لیکوالۍ کې لکه د یوه آشپز په څېر چلند کوي. له بېځایه ځان ښودلو ډډه کوي. دی د مېز شا ته کېني او د شیانو د رنګ رنګ ښودلو پر ځای اجازه ورکوي خواږه لکه څنګه چې دي، هسې ښکاره شي. دی خپل خواږه خام او پاخه دواړه په ښکاره د مشتري مخې ته ایږدي. دا د موراکامي د نثر مهمه ځانګړنه ده. موراکامي د کوبه په بندري ښار کې لوی شوی دی. دا سیمه له بهرنیو سوداګرو او بېړۍ چلوونکو ډکه وه. سیلانیان هم په دې سیمه کې هسک ټیټ کېدل. د ده کورنۍ څه ناڅه بېوزله وه. د ده پیسې د ټولو هغو کتابونو لپاره کافي نه وې چې ده یې د اخیستلو هوډ درلود. بله چاره یې نه لرله، نو زاړه کتابونه یا دویم لاس کتابونه به یې اخیستل او لوستل. له همدې امله یې لومړنۍ اړیکه له انګلیسي ادبیاتو سره پیدا شوه. ځکه د سوداګرو، سیلانیانو او بېړۍ چلوونکو دویم لاس یا کارول شوي کتابونه به یې پېرل. دا تر ډېره ساده انګلیسي او د عامو خلکو د خوښې وړ ناولونه وو.

موراکامي په ۱۹٦۸ز کال کې د واسدا د نمایشي هنرونو پوهنتون ته بریالی شو. په ۱۹۷۱ز کال کې یې له خپلې مېرمنې یوکو سره واده وکړ. موراکامي د قهوې پلورلو یو ځای ځایګی درلود او بیا یې له مېرمنې سره په ګډه یو پلورنځی جوړ کړ. دوی دواړو خپل کارځای اداره کاوه او په دې توګه یې ژوند مخ ته وړ.

موراکامي د منډې له سپورت سره ډېره مینه لرله. سره له دې چې د منډو یا ځغاستې د رسمي ټیمونو غړی و، خو تر ۳۳ کلنۍ پورې یې په هېڅ یوه سیالۍ کې ګډون ونه کړ. د ۱۱۹٦ز کال د جون په ۲۳مه یې په یوه داسې سیالۍ کې ګډون وکړ چې په هغه کې یې باید سل کیلومتره ځغاسته کړې وای.

موراکامي په لومړیو دوو- دریو ناولونو کې د نقادانو او ادبپوهانو پام ځان ته را واړاوه. ان په همدې لومړي پړاو کې یې جایزه هم وګټله، خو دا هر څه د ناروې ځنګل نومي کتاب په مقابل کې هېڅ وو. له همدې کتاب سره د موراکامي د بې پایه بریا لومړی فصل پیل شو. دا کتاب د چاپ په هماغه لومړیو وختونو کې یوازې په جاپان کې لس میلیونه وپلورل شو. د دې کتاب غبرګون دې ځای ته ورسېد چې موراکامي ته یې د شهرت تر څنګ، خطرات هم پېښ کړل. موراکامي د جاپاني لوستونکو د جذب لپاره دا کتاب لیکلی دی. دوی د سور یالیستي سبک له ناولونو سره علاقه نه لري، خو د ناروې ځنګل بیا په همدې سبک لیکل شوی دی او ده غوښتي چې د جاپانیانو پام ځان ته ور واړوي. کتاب په کاملاً واقعګرایانه فضا کې لیکل شوی دی او لوستونکی له هر څه خوند اخلي. کتاب د یوې ځوانې جوړې په اړه لیکل شوی دی. دوی د خپل یوه ملګري تر وژل کېدو وروسته، په وسوسه او د وژل کېدو په وهم کې ژوند کوي. د دغه کتاب تر خپرېدو وروسته موراکامي د جاپانیانو رګ پیدا کوي. دوی یې په ارامه او احتیاط له ځان سره خیالي دنیا ته بوتلل. داسې یوې دنیا ته چې غیر واقعي، غیر منطقي او د تشریح وړ نه ده. بیا یې کافکا په ساحل کې، د کوکي مرغه پېښې او نورو کتابونو خپله بریا تعقیب کړه.

سکورو تازاکي او د زیارت کلونه یې نوی اثر دی. د موراکامي د نورو اثارو په پرتله د دې اثر داستان ساده او ډېر روان دی. د سوکورو څلور ملګري څو کاله وړاندې له کوم دلیل پرته له ده سره اړیکه پرې کوي. ده ته هېڅ توجه نه کوي. اوس شپاړس کاله وروسته دی پرېکړه کوي چې خپل هر یو ملګری پیدا کړي. دی غواړي له دوی وپوښتي چې ولې او په څه دلیل یې دی یوازې پرېښود. د دې ناول داستان د همدې پلټنې پر پېښو راڅرخي. د موراکامي د داستانونو عمده موضوع همدا وېرې دي. له یوازیتوب وېره، له دې وېره چې څوک دې درک نه شي کړی او له دې وېره چې هر څوک دې همداسې په خپل حال پرېږدي او لاړ شي. دا ټول د موراکامي د داستانونو بنسټ دی.

موراکامي په ۱۹۸۱ز کال کې د قهوې پلورنځي او لیکوالۍ ته مخه کوي. په ۱۹۸۲ز کال کې د وحشي مېږي ناول خپروي. په همدې کال کې دغه اثر د نوما ادبي جایزه اخلي. د ۱۹۸۴ز کال په اکتوبر کې فوجیتساوا ښار ته راځي. په ۱۹۸۵ز کال کې سنداګایا ته راځي. په ۱۹۸۵ز کال کې د عجایبو وطن او د نړۍ پای کتابونه خپروي. د ناروې ځنګل اثر یې موراکامي د شهرت اوج ته رسوي. دا کتاب په۱۹۸۷ کال کې خپروي. په ۱۹۹۱ز کال کې یې پرنستون ته کډه وکړه او په پرنیستون پوهنتون کې یې په تدریس پیل وکړ.

موراکامي ۲۹ کلن و چې لیکل یې پیل کړل. دی وایي چې تر دې وړاندې یې هېڅ شی نه وو لیکلي. یو معمولي کس و او د جاز بار یې درلود. دی پخپله وایي چې د بیس بال لوبې د کتلو پر مهال یې په ځان کې د کیسې او ناول لیکلو قوت ولید، نو همغه ناول یې چې ذهن ته ورغلی و او بیا یې خپور هم کړ. د دې ناول نوم یې (د باد اواز ته غوږ شه) دی. د همدې کتاب خپرولو موراکامي دې ته وهڅاوه چې لا ډېرې لیکنې او پنځونې وکړي. له همدې وروسته نو بیا د موراکامي ناولونه ژباړل کېدل، پلورل کېدل او ورځ په ورځ یې مینه وال ډېرېدل.

ده د عجایبو وطن او د نړۍ پای په کتاب کې د فانتیزي هنر نوي اړخونه په داستان کې راڅرګند کړل. دا یې د لیکوالۍ په سبک بدل شول او خورا شهرت یې وموند. په ۱۹۸۷ز کال کې چې د ناروې ځنګل خپور کړ. همدې ده ته نړیوال او ملي شهرت ورکړ. دا کتاب د فانتیزي یا خورا خیالي سبک پر بنسټ لیکل شوی دی. دی وایي، کله چې په جاپان کې و او بیا د ۱۹۸٦ او ۱۹۸۷ ز کلونو تر منځ له دغه هېواد ووت، نو مشهور لیکوال و. ځینو فکر کاوه چې موراکامي د شهرت په خاطر تښتېدلی دی، خو نه، ما غوښتل په یوازیتوب کې او د زړه له تله هر څه ته وګورم. زه په جاپان کې ډېر مشهور وم، خو په اروپا کې چا نه پېژندم، ځکه مې غوښتل یوازې ژوند وکړم. موراکامي اروپا او امریکا ته سفر وکړ. خو اوس په جاپان کې په کاناګوا سیمه کې ژوند کوي. امریکا او اروپا ته لا هم تګ راتګ لري. په توکیو کې کاري دفتر هم لري چې مینه وال یې ورځې او د زړه خواله ورسره کوي. دی همدا راز د نړۍ په مهمو پوهنتونونو کې لا هم د ادبیاتو او داستان لیکنې په اړه سیمینارونه ورکوي او کله کله د تدریس دنده هم پر مخ وړي.

موراکامي په نړۍ کې ستر او مشهور لیکوال دی. هغه په ۲۰۱۸ز کال کې له دوو نورو لیکوالانو سره د نوبل جایزې ته هم نوماند شو. دا په نړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې یوه ستره جایزه ده چې هر کال لسګونه لیکوالان د نوماندۍ غوښتنه ورته کوي، خو له دې ډلې یو کس دغه جایزه ګټي. په نوبل بنسټ کې د ګډوډیو له امله بیا په ۲۰۱۸ز کال کې د نوبل ادبیاتو جایزه له نیوکو سره مخ شوه او ټاکل شوې وه چې په ۲۰۱۹ ز کال کې دغه جایزه یوه نړیوال لیکوال ته ورکړل شي. موراکامي لا هم لیکل کوي او د ناولونو په لیکلو لګیا دی.

انساني ژوند یې د ناولونو مهمه برخه جوړوي، خو دی غواړي په خیالي نړۍ کې ستونزو ته حل پیدا کړي. دی د خیال او فانتیزۍ په مرسته غواړي چې د بشریت او داستاني کرکټرونو ستونزې حل کړي. نوموړي لسګونه لنډې کیسې او ناولونه لیکلي دي چې دلته یې له یادولو تېرېږو، خو د مشهورو ناولونو یادونه مو یې وړاندې وکړه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۹۰ |
| € | ۸۳,۱۰ |
| Rp. | ٤۹٤ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# دا اووه کارونه مو جذابوالی له منځه وړي

ژباړه: امان الله «حنیفي»



آیا تاسې له خپلو شخصیتي ځانگړنو خبر یاستۍ؟ که تاسې خپلو ناسمو کړنو ته متوجې شی، څه به کوی؟ هغه به له منځه وړی او که به یې پر وړاندې چوپ پاتې کېږی؟ آیا تر اوسه مو د ناسمو یا بدو عادتونو پر له منځه وړلو بریالي شوي یاستۍ؟ که نه وی شوي، کومه بده خبره نه ده، دغه عادتونه مو سر له اوسه پرېږدئ:

۱.صادق نه اوسېدل

تاسې ته وایم، باید رښتیني او د اعتبار وړ کس و اوسئ، ډېری کسان چې ځانونه ډېر پیاوړي او د اعتبار وړ ښیي، ډېر هغه یې رښتیني نه دي، دوی ډېر وخت دروغ وایي. کېدای شي ډېر وخت داسې درسره شوي وي چې یو چا درته ویلي وي، زه به درته ښه دنده پیدا کړم، ته بیخي بېغمه اوسه، زما ملگري شته، زه په دې اړه ورسره خبرې کوم؛ خو کله چې بیا د عمل وخت راشي، ټلیفون مو هم نه ځوابوي. دا ډول کسان ډېر وخت یوازې د دې په لټه کې وي، څو پوه شي چې نور کسان د دوی او نورو موضوعاتو په اړه څه فکر کوي. د دوی دا ډول ناسم چلند چې یوازې د نورو په خبرو پسې ځک وي، بالاخره دروغ ویلو ته لار جوړوي. نورو ته لافي وهي، څو یې هغه په اړه ښه نظر ولري او بل ځای یې غوږې وکړي. دوی د ډېرې وړې موضوع په اړه له حد زیاتې او ډېری وخت له گیډې خبرې کوي؛ دوی دا کار یوازې ځان ته د نورو د جذبولو په خاطر کوي. خو نه پوهېږي چې خلک دومره بې کاره او ناپوه نه دي چې د دوی له گیډې په را ایستلو خبرو د تېر وځي. که تاسې هم ورته عادت لری، ښه ده چې همدا اوس یې پرېږدئ، دروغجن کس د هیچا نه خوښېږي.

۲. له اندازې زیاته سیالي کول

آیا هر چا ته د خپل سیال په سترگه گوری؟ آیا داسې فکر کوی چې هر وخت د له نورو ښه او مخکې وی؟ ممکن داسې ټولگیوال مو تېر شوي وي، چې په ټولگي د لومړي مقام گټلو په پار له خپلو ډېرو ټولگیوالو سره حتی سنت سلام هم نه کوي. که داسې عادتونه لری، د نورو له سترگو به ولوېږی. که مو له نورو سره له حد زیاته سیالي کول خوښېږي، په دې سره به نه یوازې دا چې له خپلو نږدې ملگرو سره به مو اړیکې خرابې کړی، بلکې له ژونده د ښه خوند اخیستو ډېر فرصتونه به هم له لاسه ورکړی. دا په یاد لرئ چې د بریا لاس ته راوړلو لپاره باید نورو ته په ارزښت قایل شئ. باید د خپلو ملگرو احترام وکړئ او له هغوی سره یو ځای له ژونده خوند واخلئ. «سالمه سیالي وکړئ.»

۳. منفي فکره اوسېدل

بدبیني ښه ځانگړنه نه ده. که هر وخت له اوبو ډگ گیلاس نیم وینی، هڅه وکړئ چې دا چلند مو بدل کړئ. هغه کس چې هر وخت یوازې د هرڅه منفي اړخونه ویني، له نورو سره دښمني را اخلي. ستاسې منفي فکره او بدبین اوسېدل نورو ته هم دغه انرژي ورکوي او په دې ډول د هغوی پر روحیه بد اغېز کوي. د بېلگې په ډول، احمد ښه درس لولي، خو کله چې ښوونکی د بلال پلار ته د احمد ستاینه کوي، هغه ورته وایي، یاره معلم صاحب، دا هلک مې نه خوښېږي، ډېر خودخواه دی. بیا هماغه دي چې د احمد په اړه د ښوونکي په زړه کې هم یوڅه پیدا کېږي او هغه له دې وروسته خاري. «د خلکو د بدو عاتونو پر ځای د هغوی د ښو هغو یې ستاینه وکړئ.»

۴. بې ادبي

ځینې بې ادبه یا د مقابل لوري له احترام په نظر کې نیولو پرته کړنې، پر نورو بد اغېز کوي. د «لطفاً» او «مننې» ویل، د نورو خبرې نه پرې کول، نورو ته په احترام قایلېدل، د میز پر سر د کیناستلو اداب او نورو ته وخت ورکول، هم نورو او هم ځان ته د احترام ورکولو په مانا دي. موږ معمولاً نه غواړو چې له بې ادبو او بد اخلاقو خلکو سره ملگري وکړو. ښه ده چې خپله هم دا کار ونه کړو. «بې ادبه کس د ټولو له سترگو لوېږي.»

۵. ځان رییس رییس ښودل

د ډېرو کمو کسانو د نورو ځان رییس رییس ښودل خوښېږي. د بیخي ډېرو کمو. که غواړی چې هر وخت نور کنټرول کړی یا ټول تصمیمونه په یوازې ځان ونیسی او داسې چلند کوی چې د نورو د مسوولیت بار هم ستاسې پر غاړه دی، خپل شاوخوا خلک مو له ځانه لرې کوی. ځینې وخت نورو ته بازي او فریب ورکول مو د بېلابېلو کارونو تر سره کولو ته هڅوي. کله چې بیا نور له دې کارونو خبر شي، نور له تاسې سره اړیکې ساتلو ته زړه نه ښه کوي. تاسې داسې مه کوئ. هڅه وکړئ چې د هر کار د سرته رسولو پر مهال له نورو کسانو هم سره سلا مشوره وکړئ. «کار چې په سلا وي بې بلا وي.»

٦. عاطفي ناامني

که هر وخت د ځان په اړه د نورو د نظر په لټولو او د هغوی په تایید پسې وی، پرته له شکه چې د هغوی په نظر جذاب نه یاستۍ. دا ډول کړنې انسان د نورو پر وړاندې یو ډول مصنوعي او دروغجن ښکاره کوي او همدارنگه دا پر ځان د نه باور ښنبه هم ده. د نورو د دا ډول عادتونو په اړه ښه پوهېږئ.

۷. له ځان سره زیاته مینه

له ځان سره تر حد زیاته مینه کوونکی کس د هیچا هم نه خوښېږي. دې ته مو باید پام وي چې ډېری کسان په غیر مستقیم ډول له ځان سره د زیاتې مینې درلودو اکتونه کوي. د بېلگې په ډول، ډېر زیات په هینداره کې گوري، بېلابېل رنگ لرونکې جامې اغوندي او یا هم خپل سپین ویښتان له بیخه کاږي. که غواړئ چې ټول د تاسې ته متوجې وي، هر موقعیت، پېښه او حتی هره خبره د پر تاسې را وڅرخي او د نورو اړتیاوو او احساساتو ته د توجې ونه کړي، باید د دغه وضعیت د بدلون لپاره فکر وکړئ او لاس پکار شئ. تر ټولو ښه لار یې دا ده چې پر هر لحاظ منظم و اوسئ.

## ناټو: افغان چارواکي او سیاسیون دې د ناندریو پر ځای، سولې او ملي یووالي ته لومړیتوب ورکړي



د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو د اعلان او د لوړې د مراسمو لپاره د غني او عبدالله د تیاریو له نیولو وروسته، ناټو د افغان سیاسي مشرانو تر منځ پر خبرو ټینگار کړی دی.

په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نیکولاس کې ویلي، اوسمهال د سیاسي رهبرانو لپاره جوړجاړی او مذاکرات اړین دي. کې له ټولو اړخونو غوښتي چې د سولې بهیر او ملي یووالي ته لومړیتوب ورکړي.

د ناټو ملکي استازي په خپل ټویټر لیکلي: «ناټو د یوه اړخ له اقداماتو څخه چې کړکېچ او د تاوتریخوالي د گواښ لامل شي، ملاتړ نه کوي.»

په ورته وخت کې ولسمشر غني له ځینو قومي مشرانو سره په ارگ کې د لیدنې پر مهال ویلي، ټول افغانان مسوولیت لري چې شخصي مسایل شا ته پرېږدي او سولې ته د رسېدو لپاره یو موټی شي.

د ارگ په بیان کې د غني له خولې راغلي: «د هېواد ټولو امنیتي او دفاعي ځواکونو ته مې لارښوونه کړې، چې د اعتراضونو او لاریونونو پر ضد د قوې د استعمالولو اجازه نه لري؛ ځکه چې امنیتي او دفاعي ځواکونه زموږ ملي پانگه ده او باید په کوچنیو سیاستونو او اختلافاتو کې ښکیل نشي.»

ناټو دا خبرداری وروسته له هغې ورکړی چې ارگ او د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې د لوړې مراسمو د تر سره کولو خبر ورکړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له شاوخوا پنځه میاشتني ځنډ وروسته تېره اونۍ د ولسمشریزو ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان او محمد اشرف غني یې د دغو ټاکنو گټونکی وباله.

عبدالله عبدالله د ټاکنو نتایج ونه منل او د یو ټول شموله حکومت د جوړولو اعلان یې وکړ. نوموړي تر اوسه د دریو ولایتونو لپاره خپل نوي والیان معرفي کړي دي.

که څه هم ارگ په دې اړه تر اوسه هېڅ غبرگون نه دی ښودلی، خو د سیمه ییزو ارگانونو ادارې ویلي چې په ۳۴ ولایتونو کې د افغان حکومت والیان خپل کار ته دوام ورکوي.

## فېروز: په افغانستان کې د کرونا ویروس لومړۍ مثبت پېښه ثبت شوه



د عامې روغتیا وزارت ویلي، په هرات ولایت کې یو کس د کرونا ویروس پر ناروغۍ اخته شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې یاد وزارت وړمه ورځ په هرات ولایت کې د کرونا ویروس د دریو شکمنو پېښو د ثبتولو خبر ورکړی و. د راپورونو له مخې، دغه درې کسان د ایران له قُم ښار څخه هرات ته راغلي وو. د عامې روغتیا وزیر فیروزالدین فیروز تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې له دغو دریو شکمنو کسانو څخه یو یې د کرونا ویروس پر ناروغۍ اخته شوی او په دې سره دا د کرونا لومړۍ پېښه ده چې په افغانستان کې ثبت شوه.

فیروز دغه راز په هرات کې د بیړني حالت اعلان وکړ او د دغه ولایت له اوسېدونکو څخه یې وغوښتل، چې نورو ولایتونو ته له تگ راتگ ډډه وکړي. د افغانستان د روغتیا وزیر له هوایي شرکتونو څخه هم وغوښتل، چې هرات ته خپل پروازونه محدود کړي. فیروز وویل، په هرات کې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره بشپړ تیاری نیول شوی او پر دغې ناروغۍ د اخته کس روغتیایي حالت مخ په ښه کېدو دی. هغه ویلي چې دغه کس تازه د ایران له قُم ښار څخه هرات ته ستون شوی و. د یادونې ده چې د روانې کب میاشتې په لومړۍ ایراني رسنیو د دغه هېواد په قُم ښار کې د کرونا ویروس پر ناروغۍ د اخته دوو کسانو د مړینې خبر ورکړ. د دغه خبر له نشرېدو وروسته، افغانستان په موقت ډول له ایران سره د تگ راتگ ټولې لارې وتړلې. په ورته وخت کې په ایران کې د افغانستان سفارت د دغه ویروس د خپرېدو له کبله کونسلي چارې تر نامعلومې مودې پورې ځنډولې دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب شپږمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲۵مه | ۵۲۰مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۲۲ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۵ | ۲۳ |
| ۳ | ۱٤ | ۹ | ۱۳ | ۱۱ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۹ | لمر ختل ۰۶:۲۹ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:۱۸ | ماښام ۰۵:٤۵ | ماخوستن ۰۷:۰۹

## نړۍ



# پامپیو: امریکا هڅه کوي چې له ایرانه لرې شوي نړیوال بندیزونه بیا ولګول شي

۳

## عراقي چارواکي: د نوي حکومت له جوړېدو سره سم به د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ هم پیل شي



د عراق یوه لوړپوړي چارواکي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز ته ویلي چې د نوي دولت له جوړېدو سره سم به له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د ایستلو لړۍ هم پیل شي.
هغه ویلي، له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو د پارلمان پرېکړه وروستۍ ده او نوی حکومت به یې د عملي کولو په پار کوټلي ګامونه پورته کړي.
سرچینې دغه راز ویلي چې د نوي حکومت په راتلو سره به د عراق په داخلي او بهرني سیاست کې پراخ اصلاحات او بدلونونه رامنځ ته شي. دا په داسې حال کې ده چې د عراق لومړي وزیر تېر میلادي کال په دغه هېواد کې د پراخو لاریونونو له کبله استعفا وکړه او د دغه هېواد ولسمشر برهم صالح؛ توفیق علاوي د دغه هېواد د نوي لومړي وزیر په توګه وټاکو. صالح له نوي لومړي وزیر څخه وغوښتل چې ژر تر ژره دې نوې کابینه جوړه او پارلمان ته معرفي کړي.
وروسته له هغې چې په سیمه کې د امریکا او ایران تر منځ کړکېچ پراخ شو، د عراق پارلمان پرېکړه وکړه چې د امریکایي ځواکونو په ګډون دې له دغه هېواده ټول بهرني سرتېري ووځي. که څه هم د عراق دغه پرېکړه د امریکا له مخالفت سره مخ شوې، خو تېره میاشت داسې راپورونه خپاره شول، چې پنټاګون له عراقه د ځواکونو د ایستلو لړۍ پیل کړې ده.

## اینډیپینډېنټ: لوېدیځ هېوادونه هڅه کوي چې د یمن جګړه نوره هم پېچلې شي

اینډیپینډېنټ برېتانوي ورځپاڼې ویلي، چې لوېدیځ هېوادونه د یمن په جګړه کې خپلې اقتصادي ګټې لټوي او له همدې کبله دغه جګړه ورځ تر بلې د اوږدېدو په حال کې ده.
یادې ورځپاڼې په خپل یوه راپور کې لیکلي، چې د یمن د جګړې حل ډېر ساده او اسانه دی، خو لوېدیځ او د سیمې نور هېوادونه د خپلو اقتصادي ګټو په موخه هڅه کوي چې په دغه هېواد کې روان وضعیت له کنټروله وتلی وښيي.
سرچینې دغه راز زیاته کړې چې امریکا او فرانسه له سعودي عربستان سره په ګډه په دې هڅه کې دي، چې دا جګړه ورځ تر بلې پېچلې کړي او په دې توګه په سیمه کې خپلې موخې تر لاسه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د یمن په خونړۍ جګړه کې چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف د دغه هېواد د حکومت ملاتړ کوي، خو ایران بیا هلته د دولت ضد حوثیانو ته وسلې او امکانات برابروي، تر دې دمه پکې په زرګونو کسان وژل شوي او په سلګونو زره نور بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي دي. په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو د تازه شمېرو له مخې، د دې جګړې له کبله د یمن ۷۰ سلنه اوسېدونکي جدي بشري مرستو ته اړ دي.


## کمیسیون شکایات:
# اگر بازشماری و تفتیش درست انجام میشد، نتیجۀ انتخابات نیز تغییر می کرد



کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی، با انتقاد از کمیسیون انتخابات می گوید که اگر بازشماری و تفتیش درست انجام میشد، از ٦۵ تا ۸۰ هزار رای باطل می گردید و نتیجۀ انتخابات نیز تغییر می کرد.
این مطلب را دیروز مولوی دین محمد عظیمی معاون کمیسیون شکایات انتخاباتی، در دیدار با مسئولان نهادهای جامعه مدنی بیان کرده است.
وی با اشاره به فیصله های کمیسیون شکایات انتخاباتی نسبت به اعتراضات استینافی، افزوده است: «کمیسیون مستقل انتخابات، فیصله های کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی را مطابق طرزالعمل های هر دو کمیسیون تطبیق نکرده است.»
موصوف گفته است که اگر بازشماری و تفتیش به صورت درست صورت می گرفت، از ٦۵ تا ۸۰ هزار رای باطل میشد و سرنوشت انتخابات را تغییر می داد.
همچنان چمن شاه اعتمادی رئیس دارالانشای کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی گفته است که اعلام نتایج انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸، بدون هماهنگی با کمیسیون شکایات انتخاباتی انجام شده است. اعتمادی، از نهادهای ناظر انتخاباتی خواسته است که بر اساس یافتۀ شان، دیدگاه های خویش را نسبت به سالم بودن و غیر سالم بودن انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸ با شهروندان شریک کنند.
زهره بیان شینواری رئیس کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی، از همکاری های نهادهای ناظر انتخاباتی سپاسگزاری کرده و تاکید کرد که کمیسیون شکایات انتخاباتی، مطابق قانون و طرزالعمل های انتخاباتی وظایف خویش را انجام داده است.

## ژوند

## پر کرونا ویروس د اخته کېدو نښې نښانې



د کرونا ویرس نښې نښانې په تبه او وچ ټوخي پیلېږي او له یوې اونۍ وروسته پر دې ناروغۍ اخته کس ته ساه لنډي هم پیدا کېږي.
سر درد، د عضلو دردونه او ستړیا هم پر کرونا ویروس د اخته کېدو نورې نښې نښانې دي.
خو کرونا ویروس څومره وژونکی دی؟
وروستیو څېړنو ثابته کړې چې پر دې ناروغۍ له سلو اخته کسانو د یوه د مړینې امکان شته.
د دې ناروغۍ د مخنیوي او پرې د نه اخته کېدو لارې چارې هم شته چې دلته ورته اشاره کوو:
لومړی کار چې باید تر سره یې کړئ، خپل لاسونه ومینځئ، خو څه ډول؟
په صابون سره د ورغویو، د ګوتو منځونو، د ګوتو سرونو چې نوکان هم پکې راځي، خپله ګوتې او د لاسونو شاتنۍ برخې په سم ډول مینځئ.
که څوک ټوخېږي او یا هم پرنجې کوي، ځان لرې ترې ساتئ، ځکه ویروس له ټوخي او پرنجې سره لا زیاتېږي او خپرېږي.
ډېری متخصصین په دې اند دي چې د ماسک تړل له دې ناروغۍ څخه د مخنیوي په برخه کې چندان ګټور نه دي. دوی وایي، ماسک یوازې پر کرونا ویروس د اخته کسانو لپاره ښه دی، ځکه د ویروس د خپرېدو مخنیوی کوي.
نو اړین ټکی دا دی چې د ټوخي او پرنجې پر مهال هرو مرو خولې ته دستمال نیسئ، که دستمال نه لرئ؛ بیا له خپلې څنګلې هم ګټه اخیستی شئ.
له بده مرغه چې په افغانستان کې هم د دې ناروغۍ یوه مثبته پېښه ثبت شوې ده. د عامې روغتیا وزیر فېروزالدین فېروز په هرات ولایت کې د کرونا ویروس د یوې مثبتې پېښې خبر ورکړ.
فیروز پرون په کابل کې یوې غونډې ته وویل، چې په هرات کې د دغې ناروغۍ درې مشکوکې پېښې وې، چې دوه یې منفي او یوه یې مثبته ده.

ماستر ډېبټ کارت
د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

